# لَا يَقْبَلُ اللهُ صَلَاةَ أَحَدِكُمْ إِذَا أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ». "له تاسو څخه الله جل جلاله د هېچا لمونځ نه قبلوي کله چې اودس مات کړي تر دي چې اودس وکړي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «لَا يَقْبَلُ اللهُ صَلَاةَ أَحَدِكُمْ إِذَا أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ». "له تاسو څخه الله جل جلاله د هېچا لمونځ نه قبلوي کله چې اودس مات کړي تر دي چې اودس وکړي".

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم بيانوي چې د لمانځه د صحت لپاره يو شرط پاکوالی دی، نو څوک چې د لمانځه اراده وکړي اودس دې وکړي که چېرته يې له اودس ماتوونکو څخه په يو اودس مات شوی وي؛ لکه ډکې او تشې متيازې کول؛ خوب او داسې نور.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3534